# خوشحال خان خټک



## د خوشحال بابا تعارف او ژوند :

خوشحال بابا په کال ۱۰۲۲ هـ په اکوړه خټک کښې د شهباز کور کښې پیدا شوے وو. د پلار نوم ئې شهباز خان وو او د نیکه نوم ئې اکوړ خان وو. شهباز خان د مغلو له طرفه د خټکو خان وو او دا خاني ورته پلار نیکه نه میراث کښې پاتې شوې وه. شهباز خان به د مغلو دپاره ټیکس راټولولو. شهباز خان د ټیکس راټولولو په وجه پښتانه سره ډېر جنګونه کړي دي، شهباز په یو جنګ کښې ژوبل شو او په ۱۰۵۰ هـ کښې وفات شو.

کله چې د ده پلار شهباز خان وفات شو نو خوشحال ته د مغلو منصب په میراث کښې پاتې شو. خوشحال د ډېر عمر د مغلو خدمت وکړو او د پلار په شان ئې د مغلو دپاره ټیکس راټولولو. د ټیکس په وجه ئې د پښتانه نورو قبیلو خصوصاً یوسفزي سره ډېر جنګونه ئې کړل، لکه څنګه چې خوشحال په خپل یو شعر کښې وائي :

د مغل د پاره ما لوړ ري وخلي
پښتو به راته کړے ډېرې ښکلي

Not making sense

د اورنګزیب په زمانه کښې یو هوبیدار اورنګزیب ته بدګما د خوشحال نه بدګمانه کړو او اورنګزیب خوشحال په رنتمبور په قلعه کښې بندي کړو. خوشحال په قید کښې ډېر فکر وکړو چه مه د مغلو دپاره د خپلو پښتنو سره جنګونه کول څو مغل مه خپل نه کړل، د دې په وجه د خوشحال په زړه کښې د مغلو خلاف انقلاب جذبه پیدا شوه او چې کله خوشحال آزاد شو نو ده ټولو پښتو قبیلو نه ئې معافي وغښته او د مغلو خلاف د پښتو یوځائي کولو کوشش ئې شروع کړو.

CS CamScanner

کله چې خوشحال د مغلو خلاف جنګونه شروع کړل نو اورنګزیب
د مره تنګ شو چې پخپله حسن ابدال ته راغئ، د اټکو سره
ئي په پښتو کښې دولت و تیر لو. خوشحال خېل زوي بهرام
خان هم د سردارۍ په لالچ کښې د خپل پلار خلاف شو. خوشحال
ټوله قبیله د ده خلاف شوه. په دې وجه خوشحال ډیر مایوسه
شو او د هجرت وکړ. خوشحال باقي ټول عمر په جنګ کښې یا په
جنګ تیاری ښدې تېر شو. خوشحال په تیره کښې په ډمبره کلي
کښې په 1100 هـ کښې وفات شو.

## خوشحال بابا ادبي خدمات :

خوشحال په شلو کالو په عمر کښې شاعري شروع کړې وه. بابا
په پښتو ادب کښې د ټولو نه زیات همه ګیر شخصیت دے. بابا
شاعر هم وو، ادیب هم وه، فقیر هم، عالم هم وه او د لوړې سره
ئي هم دوستي وه. بابا د ده دوسو نه زیات کتابونه لیکلي دي.
په دې کښې مشهور کتابونه دغه دي : د خوشحال بابا کلیات،
سوات نامه، دستار نامه، فراق نامه، طب نامه، فرح نامه،
عیار دانش، د سورة یوسف تفسیر ئي کړې دے او هدایة
یې په پښتو ژبه کښې ترجمه کړے ده، په دې وجه
خوشحال تا عالم هم وئیلي شي. خوشحال بابا په پښتو ژبه ښدې
ډېر زیات احسانات دي لکه څنګه چې په خپل دې شعر
کښې وائي :

که د نظم که د نثر که د خط دے
په پښتو ژبه مې حق دے بې حسابه

خوشحال خان شاعري : خوشحال خان په هر ز یا تو موضوعاتو بندې شاعري کړې ده. خو ښکاره اړخونه ئې څلور دي :

Add more poetry

① قامي / وطني شاعري :

قامي یا وطني شاعري هغه شاعري ده چې په کومه کښې د پښتون یا افغان قام ذکر راغلے وي یا د پښتون علاقې بندې بحث شوے وي. خوشحال په زړه کښې د خپل قام د پاره ډېره جذبه وه. خوشحال په شاعري په ذریعه بندې د پښتو دالوټولو او اچولو تیزې ډېر کوشش کړے دے. ده په خپله شاعري کښې د پښتون قام ښه او بد خصوصیات بیان کړي دي لکه څنګه چې دا ئې وائي :

① هره چاره د پښتون تر مغل ښه ده
اتفاق ورسره نشته دے ډېر ارمان
که توفیق د اتفاق مومي پښتانه مومي
زور خوشحال به دوباره شي په دا ځوان

په دې شعر کښې خوشحال اول د پښتو صفات بیان کوي او وائي چې پښتون کهر لو خصوصیات د مغلو نه بهتر دي خو صرف په دې کښې اتفاق نشته او که چرته په پښتو کښې اتفاق پیدا شي نو خو بیا ئې اوس زوړ شوے یم بیا دوباره ځوان شم په دا وخت بندې خوشحال زوړ شوے وو او ډېر وخت ئې په جیل کښې تېر کړے وو. چو اتفاق په پښتو کښې اوسه پورې پیدا نشته.

② درست پښتون له ننګرهاره تر اټکه
سره یو د ننګ په کار پیټ او اشکار
اپریدی، مومند، شنواري ټوره څلله څه که
د مغلو لښکر پروت په ننګرهار

Add poetry

خوشحال وائي چې ټول پښتون د ننګرهار نه تر اټکه پورې یو دي او د قبیل ننګ دپاره هر وخت یو ځائي دي که ده په ښکاره وي که په پټه. خو خوشحال بابا وائي چې اپریدي، مومند او شنواري څه کول او چرته وي ځکه چې د مغلو لښکر او فوج د ننګرهار پورې راغلی او هلته پروت دے. خوشحال پښتنو ته وائي چې رایو ځائي شئ او د مغلو خلاف مقابله اوکړئ.

③ پېزاره مې او لیده راغلم لړ سوات
پښتون مې اولیده د لوي لوي ذات
عقل همت مې ده چا ونه لید
په بېرته راغلم تاسته هم ملا مات

خوشحال خان خټک په قبیله زندګۍ کښې ډېر زیات سفر کړے وو او زیاتي شعر کښې رائي وائي چې زه پېزه نه تر سوات پورې راغلم او په دې دوران کښې مې ډېر د لوي لوي ذات او بهادر پښتو ولیدل خو په دې کښې عقل او همت مې نه ولیدو. په پښتو کښې دومره عقل او همت نشته چه یو څه د مغلو مقابله وکړي او دغې زه ډېر مایوسه کړم.

(4) نه ئې ننګ شته نه ئې شرم
څه نابود دي دا ساګان
زه به ننګ د پښتانه یم
دوی دي نیولي مغلان

خوشحال وائي چې په پښتو کښې نه ننګ شته او نه شرم او دوی د بر برباد دي. ځکه چې زه دا دي یوځائی
کولو کوشش خو زما ټول پښتو خصوصاً زما رشته دار او زوئې بهرام خان د مغلو نه جائیدادونه اور دولت اخلي.

(5) اتفاق به پښتانه کښې پیدا نه شو
کښې ما به د مغل ګریوان پاره که

خوشحال وائي چې ما ډېر کوشش وکړو چې پښتو یوځائی شي او به دوی کښې اتفاق پیدا شي خو زه ناکام شول. که چرته پښتو مره ځېره منلې وه او یوځائې شوی وه نو ما به مغلو ته ماته ورکړې وه او د اورنګزیب ګریوان به مې باره کړې وه.

(6) د افغان به ننګ مې وتړله توره
ننګیالی د زمانې خوشحال خټک یم

## ② رزمیه شاعري:

رزمیه شاعري هغه شاعري ته وائي چې کومه کښې د جنګ جګړې او توري ذکر وي. خوشحال بابا ټول عمر جنګونه کړي وي. د ډېر نه مخکې یې خپل پښتنو سره جنګونه کول او ډېر نه پاسه یې د مغلو سره جنګونه کول. دې جنګونو ذکر خوشحال په خپل شاعرۍ کښې کړې دے. خوشحال رزمیه شاعرۍ په ذریعه بیرې پښتنو ته د مغلو خلاف جنګ او مزاحمت ترغیب ورکړې دے. لکه څنګه چې په یو شعر کښې وائي:

① پښتانه که بل څه فکر کړي نا پوه دي
بې له توري حلا هېڅ نشته په بل کار

خوشحال وایي چې پښتنو ازادي صرف په یو صورت ممکنه ده او هغه دې د مغلو خلاف توري اخستل او جنګ کول. که چرته پښتنو د فکر کوي چې مونږ به د مغلو نه توري علاوه په بله لار ازادي مونده لګا کښې لو پښتنو نا پوه دي. په دې شعر کښې خوشحال پښتنو ته د مغلو خلاف جنګ ترغیب ورکوي.

② اتفاق په پښتانه کښې پیدا نه شو
کنې ما به د مغل ځیلوان پاره که

③ بله هیڅ لیدلي نه شي په دا مینځ کښې
یا مغل د مینځه ورک یا پښتون خوار

خوشحال وايي چې پښتو سره بله لار نشته، دوي به توره د اخلې او مغل تا به رانټې ورکوي او که چرته پښتون توره نه اخستله نو دوي به بوړا غم خوار وي او د مغل غلامي به کادي.

④ له ټر او سه يې ماغزه په قرار نه دي
چا چې ما سره وهلې سر په ټټګ ډېږې دے
له ډېر خوب ګنې په لړزه پريوزي له کټه
چې د چا ټر غوږ زما د توري شرنګ دے.

په دې شعر ګښي خوشحال د خپلې بهادرۍ ذکر کړے دے.
ګمځه وايي چې ګمځه څوک چې زما سره يي جنګ کړے دے په ماغزه ګښي خراب دي، او س هم يې روغي نه ده په خوب ګښي ورځو نو دوي زما د يري دوجه کټ نه پريوزي ځکه چې دوي زما د توري شرنګ او آواز اوريدلي دي.

⑤ د افغان په ننګ مې وتړله توره
ننګيالے د زماني خوشحال خټک يم

~~~~ x ~~~~ x ~~~~ x ~~~~

Explanation of the poetry should
be reduced
~~~~

③ اخلاقي شاعري :

اخلاقي شاعري هغه شاعري ته وائي چې په کومه کښې د ښه اخلاقو بحث وي لکه رښتیا وائیل، د بل چه سره نیکي کول، محنت کول، حوصله لرل، د مشرانو عزت کول وغیره.

خوشحال خان د یر تجربه کار ژوند تیر کړے دے او دا ده ژوند د حکمت په ډاک دے. ده خپل ژوند حکمت په شاعري کښې بیان کړے دے. خوشحال اخلاقي شاعري ډیره جامعه ده او اخلاقیاتو په هر اړخ ئې خیال او فکر کړے دے. پوهان وائي که موږ چرته خوشحال په اخلاقي شاعري بندي عمل وکو نو موږ به په دواړو جهانو کښې کامیابي موندلے کو.

① همت : که اسمان دې زمري په خله کښې ورکا
د زمري په خله کښې مه پریږده همت

خوشحال وائي که چرته تا قسمت تا په زمري په خله کښې ورکړي بیا هم همت مه پریږده یعني په ژوند کښې څومره هم سخت حالات راشي موږ همت په کار دي.

② دروغ وائیل منع کوي

چه دروغ تر خولې وباسي ګله خوله ده
چه رښتیا تر خولې وباسي خوله هغه

موږ ته همروفت رښتیا وائیل په کار دي.

③ د محنت او نا امیدۍ په باره کښې وائي:

نا امیدي په لوے بادشاه دربار کښې نشته

هر سړے چې محنت کا نتیجه مومي

④ د خدائې مخلوق نیکوائۍ په باره کښې وائي:

چې د خلقو نیکوائۍ لري په زړه کښې

مبارک دې شه بادشاهي لري په زړه کښې

⑤ راحت او محنت په باره کښې وائي:

چې محنت په ځان منول کا راحت مومي

رانجه او کنځ سره دواړه دي یو ځلي

خوشحال بابا وائي چې راحت د پاره محنت ضروري دے، هغه

هر څوک چې محنت کوي راحت به مونده وي او د دغه

شان نه هر څوک چې ځان بندي کنځ یعنې تکلیف برداشت وي

هغه به کامیابي او دولت مومي.

---

٦) عشقیه شاعري :

عشقیه شاعري هغه شاعري ده چې کښې شاعر د خپل محبوب سره د عشق اظهار کوي او د خپل محبوب او جانان د زلفې، ستونزي، سترګو او لږی ښکلي صفت او قدر بیانه وي.
خوشحال خان شاعري یو ښکاره الرح عشقیه شاعري ده چې په هغه کښې خوشحال د خپل جانان سره د مینې اظهار کوي.

١) لوره چې شیریزي څو ګزار لره کنه
زلفې چې ولول شي څو خپل یار لره کنه
خله راته وائي چې په ښکلو نظر مه کړه
سترګې چې پیدا دي خو دیدار لره کنه

خوشحال وائي چې څنګه لوغاړي خپله لوره تېره کوي د جنګ او ګزار دپاره داشان زما محبوب زلفې هم مار پاره تیاره وي او جوړه وي. او ته خله راته وائي چې خپل جانان دیدار مه کړه او منع کوي د خپل یار دیدار نه خو ماته زما خدائي ماته سترګې د خپل یار دیدار دپاره راکړي دي.

٢) په درست جهان به نه وي لوړ ما غونډي رسوا بل
ورځم لوره و ښکلي چې ځین واوړم په بیتا بل

د لته شاعر وائي چې زه په ته مه منع کښې لوړ څوک نشته برداشت کولې، ته صرف زما یې.

③ یا به سر د خپل ورمېږ په وینو رنګ کړم
یا به ښکل کړم دغه ستا شونډې ملوکې

شاعر د خپلې مینې اظهار داسې کوي چې زه دومره پرعزم یم چې زه سته د شونډو و ښکلولو دپاره زه خپل سر او غاړه هم قربان کولو ته تیار یم.

④ زه خوشحال کمزوی نه یم چې به دار کړم
په ښکاره نعرې وهم چې ځلو حوله لې راکړه

شاعر په خپله عاشقۍ کښې بزدلي او کمزوري قائل نه دی او ټول جهان په ځکې وائي چې ماته خپل جنان حوله راکړه.

⑤ د خوشحال له زړه د یار محبت نه ځي
لکه مینه د خپل بت له بت پرسته

شاعر وائي لکه څنګه چې په بت پرست ښځې خپل بت ګران وی او هر وخت یې زړه پورې ښوليږي او یاده وي یې دشان ته زما د زړه نه څوک زما د یار مینه او محبت ختمه ولې نشي، د یار محبت هر وخت زما په زړه کښې وي.

⑥ یا به ستا زلفې ونیم په لاس کښې
لکه مینه یا به سر ورباندې بائیلم دوه وینا دي

تاریخ: ____________

یا به سته زلفې و نیسم په لاس کښې
یا به سر ورباندې بائیلم دوه وینا دي

شاعر وائي چه زه به خپله مینه او عشق کښې دومره بر عزم یم چې زه به خپل جانان حاصله ولو دپاره خپل ځان هم قربان کړم، یعنې ما سره صرف دوه لارې دي یا به جانان حاصلوم یا به ځان بائیلم.

Add more poetry
Explanation of the poetry should be reduced.
Overall language is fine.